**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## له هندو دولت سره ګډ فوځي تمرینات؛ د اشغال شوي کشمیر له مظلومو مسلمانانو سره خیانت دی

د باجوا-عمران رژیم به له هند او نورو هېوادونو سره په ګډو پوځي تمریناتو کې برخه واخلي. په داسې حال کې چې هندو دولت په ډېره سپین سترګۍ سره د اشغال شوي کشمیر پر خلکو بریدونه کوي. نارینه یې شکنجه کوي او ښځینه وو ته یې سپکاوی کوي. «ISPR» د ۲۰۱۹ م کال د سپټمبر په ۱۷مه تایید کړه، چې پاکستان به له شانګهای (SCO) غړو هېوادونو سره یو ځای د روسیې د Tsentr (مرکز) د ۲۰۱۹م کال په تمریناتو کې برخه واخلي. د دې پر ځای چې زموږ د وسله والو ځواکنو زمریان د مظلومو مسلمانانو په ملاتړ وخوځوي؛ د باجوا-عمران رژیم د هند وحشي دولت ته دا زمینه برابروي، چې زموږ له جنګي وړتیاوو سره بلد شي. ولې د پاکستان په شان پیاوړی وسلوال ځواک د یوه وحشي سیال پر وړاندې د خپلو وړتیاوو په ډاګه کولو ته اړ اېستل کیږي؟ ولې له دښمن سره دومره لویه مرسته وشي؟ په داسې حال کې چې الله سبحانه و تعالی یوازې له هغو مسلمانانو سره د مرستې امر کړی، چې د دښمنۍ له امله ځورېدلي دي؛ الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ﴾**

[انفال:۷۲]

*__ژباړه:__ که هغوی له تاسو څخه د دین په اړه مرسته وغواړي، نو له هغوی سره مرسته کول در باندې فرض دي.*

پر الهي امر سربېره ولې باید دا ډول ښکاره خیانتونه وزغمل شي؟ په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې:

**«لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ اللهِ»**

[احمد او طبراني]

*__ژباړه:__ د الله سبحانه وتعالی په نافرمانۍ کې د مخلوق لپاره هېڅ اطاعت نه شته.*

 څنګه له هندو دولت سره دا ډول نظامي مرسته د منلو وړ ده؟ که دا له هندو دولت سره د اړیکو د عادي کولو پیلامه بولي، نو مانا دا چې اشغال شوی کشمیر هند ته پرېږدي او په دغه سیمه کې د هند واکمنۍ ته تسلیمېږي.

**اې د پاکستان د وسلوالو ځواکونو زمریانو!** نور باید د دغه خیانتونو مخه ونیسئ. ایا ستاسو منځ کې اسد بن زراره، اوسید بن حیدر یا سعد رضی الله عنه نشته؟ هغه کسان چې د خپل اخرت د خوندي کولو لپاره به یې د اور، فولادو او خپل روح د پراخوالي دوعاګاني کولې! ایا ستاسو په منځ کې هغه باایمانه کس نشته، چې د نبوت پر تګلاره د خلافت د بیا تاسیس لپاره خپل نصرت (مادي ملاتړ) ډالۍ کړي او د انصارو عالي میراث را ژوندی کړي؟ همدا د یوه رښتیني خلیفه وخت دی، چې موږ رهبري کړي؛ هغه به مو د دښمن پر وړاندې له جګړې څخه را ونه ګرځوي، بلکې د هغوی پر وړاندې به مو جګړې ته واستوي. مسلم له ابو هریره رضی الله عنه روایت کړی، چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي:

**«إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ، يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ، وَيُتَّقَى بِهِ»**

***ژباړه:*** *امام په حقیقت کې هغه ډال دی، چې تر شا یې جګړه کوئ او خوندي وئ.*

**د حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۳/۱۴۴۱**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د محرم ۱۹مه**

**۲۰۱۹م کال، د سپټمبر ۱۸مه**